آصف بهاند ۲۰۱۷/۱۱/۱۰

# یو سری، اوه سری، اویا سری

ښامار چې راغی ښار ته غلی

له یوه سر، سره

ټول غلي ناست وو

چا څه و نه ویل

څو غلي ناست یې چې تر ستوني تیر کړل

په خوشالی سره اوه سری شولو

خلکو رنې، رنې کتل

او بیا یې هم څه نه وې

بیا یې تر ستوني کلی تیر کړ

او اوه سری، اویا سری شولو

اوس له اویاوو خولو نه

اویا اورونه شیندي

ژوند یې د زهرو ګوټ کړ

او ټول ښاریان یې ورته ودرول

ښاریان که غواړي که نه غواړي

خامخا به دا ګوټونه کوي

کرار دې غلي کینې

او خپل جامونه دې پر سر اړوي

۲۰۱۷/۱۱/۰۲
هیدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ